# اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالی يې درېيم وي؟

د ابو بکر صديق رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: ما د مشرکانو پښې زموږ د سرونو د پاسه وليدلې، حال دا چې موږ په غار کې وو، ما وويل: اې د الله رسوله، که له دوی څخه يو کس خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو موږ به ووينې، هغه وفرمايل: « اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې الله تعالی يې درېيم وي؟
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

امير المؤمنين؛ ابو بکر صديق رضی الله عنه د هجرت پر مهال وويل: ما د مشرکانو پښو ته وکتل چې زموږ د سرونو د پاسه د ثور د غار پر سر ولاړ وو او موږ پکې وو، ما وويل: اې د الله رسوله، که يو له دوی خپلو پښو ته لاندې وګوري، نو موږ به ووينې، هغه وفرمايل: اې ابو بکره، ته د هغو دوو په اړه څه ګومان کوې چې په نصرت، مرسته، ساتنه او لارښوونه کې يې الله تعالی درېيم وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3447